# رغونه

**اونیزه**

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د رجب المرجب ۱۳ مه، ۱٤٤٧ هـ ق کال
مرغومي/جدی ۱۳ مه، ۱۴۰۴ هـ ش کال

لومړی کال، پرله پسې ۴۵ مه ګڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## په دې ګڼه کې لولئ:


- ارزګان: د وچې مېوې د ذخیرې لپاره د ۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ګدام جوړېدو چارې پیل شوې
- هرات: د شپږمې ناحیې ټانک مرکز سیمه کې د فرهنګ خونې نوې تعمیر د جوړولو پروژې چارې رواني دي
- بلخ: د مزارشریف-کابل لویه لاره د څراغونو په بیارغونې سره لاروښانه کېږي
- ننګرهار: جلال‌اباد ښاروال د قلعه خیالي سړک د رغونې چارې وڅارلې
- هلمند: لښکرګاه ښار او ناوې ولسوالۍ د داخلېدو دروازه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه
- هلمند: لښکرګاه ښاروالۍ د راتلونکي پسرلي لپاره ۲۶ زره نیالګي چمتو کړي
- ننګرهار: د جلال‌اباد شپږمې ناحیې د سړک د جوړولو چارې تر څار لاندې دي
- لغمان: مهترلام ښار کې د ۷۰ زره ډالرو په ارزښت د اوبو رسولو پروژه پیل شوه
- بلخ: مزارشریف ښار کې د کارته نوشاد سړک کانکریټ‌ریزی پروژه روانه ده
- هلمند: څلورمه ناحیه کې د فرعي سړک او ویالو جوړولو چارې رواني دي
- بلخ: داغګیری سرک چهارراهی برکت الی چهاراهی کفایت در شهر مزارشریف جریان دارد
- بامیان: ۲۲ باب دکان تازه‌اعمار شده شاروالی بامیان فعال و به بهره برداری سپرده شد


## مهترلام ښار کې د ٦.٥ میلیونه افغانیو په ارزښت د کانال او پلچکونو جوړېدو چارې پیل شوې



لغمان

## د مهترلام ښاروالۍ له لوري د ۱۲ میلیونه افغانیو په لګښت سړک بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



غزني

## مزارشریف ښار کې ۳٦ زیربنایي پروژې د ۲۴۷ میلیونه افغانیو په لګښت بشپړې شوې دي



بلخ

## مهترلام ښار کې د ۶.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د کانال او پلچکونو جوړېدو چارې پیل شوې


لغمان ۱

لغمان – مهترلام ښار کې د ښاروالۍ له داخلي بودجې څخه د دویمې ناحیې اړوند قبایلو ریاست مخ ته د ۶.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه ۸۳۰ مترو اوږد کانال او ۵ پلچکونو د جوړېدو چارې پیل شوې. دا پروژه به د یوې میاشتې په موده کې بشپړه شي، چې ورسره به د فاضلابو د اوبو بهیر منظم او سیمه له چټلیو وساتل شي. د دې مهمې پروژې بنسټ ډبره د لغمان والي او ښاروال لخوا کېښودل شوه. روان مالي کال کې د مهترلام ښاروالۍ د ۱۰۳ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۲ پروژې پلان کړې چې ۵ یې پیل شوې دي.

## غزني ښار کې د ملکي روغتون سړک د تفصیلي پلان د تطبیق په موخه د هټۍوالو سره ناسته وشوه


غزني ۲

د غزني ښاروالۍ د ملکي روغتون سړک د پراخولو، ښاري نظم او ترافیکي ستونزو د حل په موخه له هټۍوالو سره ناسته وکړه. ښاروال مولوي سردار ولي ثابت وویل؛ چې یاد سړک د گڼې گوڼې له امله پراخېدو ته اړتیا لري او هټۍوال باید خپلې هټۍ د ښاروالۍ د طرحې له مخې تخلیه کړي. نوموړي د سړک د پراختیا او ښاري ښکلا اهمیت روښانه کړ. هټۍوالو خپلې اندېښنې شریکې کړې، او ښاروالۍ ژمنه وکړه چې د قانون په چوکاټ کې به له دوی سره همکاري کوي.

## د وچې مېوې د ذخیرې لپاره د ۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د گدام جوړېدو چارې پیل شوې


روزگان ۳

ارزگان – ترینکوټ ښار کې د UNDP موسسې په مالي ملاتړ او د ښاروالۍ په تخنیکي همکارۍ، د وچې مېوې د ساتنې او ذخیرې لپاره د یو ستر گدام د جوړېدو کارونه پیل شول. دغه گدام به ۲۶ متره عرض او ۴۹ متره اوږدوالی ولري. پروژه کې د انځرو منډۍ د تشنابونو او دوو دروازو ترمیم هم شامل دی، چې ټول کارونه به په درېیو میاشتو کې بشپړېږي. د گدام په جوړېدو سره به د کاروبار د پراختیا، د محصولاتو د خوندي ساتنې او د کار موندنې زمینه هم برابرېږي.

## گرشک ښاروالۍ له لوري د ودانیو د کړکیو اینبودلو په اړه د همغږۍ غونډه ترسره شوه


هلمند ۴

هلمند –گرشک ښاروالۍ د حکومتولۍ مدیریت او د مارکېټونو تنظیم مدیریت له لوري د اصنافو له وکیلانو سره د امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د فرمان د تطبیق په موخه د همغږۍ غونډه ترسره شوه. په غونډه کې د ودانیو د جوړولو پر مهال د کاونډي ودانیو پر لور د کړکیو اینبودلو اړوند د فرمان حکم تشریح شو. مسؤولینو له اصنافو وکیلانو وغوښتل چې د عامه پوهاوي په برخه کې همکاري وکړي، ترڅو د فرمان طرزالعمل په سمه توگه عملي شي.

**د غزني ښاروالۍ، د ښاري نظم او پاکوالي په موخه د تنظیف چارې د پخوا په پرتله چټکې شوې دي. د تنظیف مدیر حافظ احمد وایي؛ هره ورځ له ښپږو ناحیو ۳۰-۳۵ موټر کثافات ټولېږي او له ښاره بهر انتقالېږي. ښاریان دا هڅې ستایي او وایي؛ د ښار ښکلا او پاکوالي کې ښکاره بدلون راغلی. هغوی د بهیر دوام غوښتنه کړې.**


غزني ۵

**نهال‌های غرس‌شده در امتداد سرک پلان تفصیلی قسمت اول دشت عیسی‌خان، توسط کارمندان شاروالی بامیان مورد مراقبت قرار گرفت. آب‌گیرهای اطراف نهال‌ها پاک‌کاری و خاک اطراف آن‌ها نرم‌سازی گردید تا شرایط مناسب برای رشد بهتر نهال‌ها فراهم شده و آب‌های ناشی از برف و باران نیز به‌خوبی جذب گردد.**


بامیان ۶

## قره‌باغ ښار کې د کشمش پلورنځیو فعالیتونه تنظیم شول



کابل ۷

کابل– قره‌باغ ښاروالۍ د قومندانۍ په همکارۍ د مارکېټونو د تنظیم مدیریت لهخوا د کشمش پلورنځیو د فعالیتونو د تنظیم او کنټرول اقدامات وکړل. دا گام د عامه لارو د خلاصون، ترافیکي نظم او ښاري اسانتیاوو لپاره پورته شو.

هغه کسان چې له ټاکل شوو حدودو بهر یې فعالیت کاوه، منظم شول او قانوني لارښوونې ورته وکړل شوې. د سرغړونکو پر ضد اصولي اجراات ترسره شول. له دې اقداماتو وروسته ښاري نظم ښه، د تگ راتگ اسانتیا زیاته او د خلکو رضایت ترلاسه شو.

## انجیل ښاروالۍ کې د درې گونو ناحیو گذرونو معیاري کولو چارې بشپړې شوې

هرات– انجیل ښاروالۍ د انجنیرۍ او ښاري حکومتولۍ مدیریت وتوانېد چې د ښار درې گونو ناحیو په معیاري ډول تنظیم کړي. په دې لړ کې د ښاروالۍ اړوند ټول ۵۹ گذرونه ترتیب او تثبیت شوي، چې له ډلې یې ۲۳ گذرونه په لومړۍ ناحیه، ۱۳ په دویمه، او ۲۳ گذرونه په درېیمه ناحیه کې شامل دي.

یاد اقدام د ښاري خدمتونو د ښه والي او اداري د شفافیت لپاره عملي شوی دی.

هرات ۸

## درېیمه او څلورمه ناحیه کې د ناقانونه خنډونو لرې کولو کمپاین ترسره شو


روزگان ۹

ارزگان– ترینکوټ ښاروالۍ له لوري د ښاري نظم راوستلو په موخه، د ښار درېیمې او څلورمې ناحیې یو شمېر بند واټونه او پلې لارې له ناقانونه خنډونو پاکې شوې.

د ښاروالۍ د انظباطي مدیریت مدیر قاري عبدالقوي وایي؛ دا اقدام د خلکو د تگ راتگ د اسانتیا، ښاري نظم او د گڼې گوڼې د کمولو لپاره ترسره شوی. نوموړي زیاتوي چې ښاروالۍ په اونۍ کې درې ځله دا ډول نظارتونه کوي.

د ښاروالۍ رهبري له ښاریانو غواړي چې واټونه او پلې لارې، چې عامه ملکیتونه دي، د شخصي گټې لپاره ونه کاروي.

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

به منظور زیباسازی محیط شهری و ارتقای جذابیت پارک ها، کارمندان بخش تنظیف شاروالی محمودراقی اقدام به قیچی‌کاری و تزئین نهال‌های زینتی پارک تفریحی صیاد نمودند که باعث نمای منظم و زیبا یافته و محیط خوب برای بازدیدکنندگان ایجاد گردد.



کاپیسا ۱۰

شاروالی کندز کار پروژه کانکریت‌ریزی سرک حلقوی، کوچه‌ها و آبروهای شهرک قهوه‌خانه شهر کندز را به تاریخ ٦ جدی ۱۴۰۴ را رسماً آغاز نموده است.این پروژه حدود ۳ کیلومتر سرک، شامل یک سرک حلقوی، ۱۱ کوچه فرعی و آبروهای دوطرفه را در بر می‌گیرد و با هزینه ۴۷ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی در مدت ۷ ماه تکمیل خواهد شد. شاروال کندز هدف این پروژه را بهبود دسترسی خدمات شهری، حل مشکلات ترافیکی و مدیریت آب‌های سطحی در شهر کندز عنوان نموده است.

کندز ۱۱

سرک دریا خان با استفاده از بودجه انکشافی سال ۱۴۰۵ شاروالی شهر ایبک مورد بازسازی (قیرریزی) قرار می گیرد.



سمنگان ۱۲

شاروالی شهر چاریکار برای بهبود وضعیت محیط زیست و نظافت شهر، کار پاک کاری و بازگشایی جویچه‌ها و آبروهای شهرک معلمین را با موفقیت به پایان رسانید.



۱۳

طبق تفاهم رسمی میان ریاست عمومی انسجام امورشاروالی‌های ریاست عمومی اداره امور و بانک ملی افغانستان (AUB) به منظور ایجاد سهولت در صدور و تحویلی تعرفه ها و ارائه خدمات و سهولت های بیشتر به شهروندان نمایندگی رسمی بانک متذکره در مقر ریاست شاروالی بازارک پنجشیر به فعالیت آغاز نمود.




پنجشیر ۱۴

به اساس هدایت مولوی محمد فیروز فاروقی، شاروال شهر ایبک از چگونگی نظافت، پاکی، حفظ الصحه و عرضه خدمات خبازی ها، رستورانت ها و برگر فروشی های بازار بالای شهر ایبک نظارت صورت گرفت.



سمنگان ۱۵

## غزني ښاروال د عمومي سړک د پراخولو له بهیر څخه لیدنه وکړه



غزني ۱۶

د غزني ښاروال الحاج مولوي سردارولي ثابت د کابل-کندهار پر عمومي سړک د پراخولو او خط اچونې له روانو چارو لیدنه وکړه او مسؤولینو ته یې د چارو د چټکتیا او معیاري تطبیق سپارښتنه وکړه.

یاده پروژه د سړک د پراخوالي، ټرافیکي نظم او د عامه تګ راتګ د اسانتیا په هدف پلي کېږي. د ښاروالۍ انجنیر محمدابراهیم منصور وایي؛ پر غاړه هټۍوالو ته یوه اوونۍ وخت ورکړل شوی، څو خپلې سیمې خالي کړي.

اوسېدونکو دغه ګام ستایلی او د ښاروال له رهبرۍ یې مننه کړې ده.

## خوست ښار کې د لویو سړکونو مینځلو کمپاین پیل شو



خوست ۱۷

د خوست ښاروالۍ له لوري د ښار د پاکوالي، عامه روغتیا او ښاري نظم د پیاوړتیا په موخه د ښار لوی جادې او سړکونه د شپې ناوخته د اطفایې مدیریت په همکارۍ مینځل کېږي.

ښاروال حافظ عبدالرشید عمري وایي؛ دا بهیر به دوامداره وي څو ښاریانو ته پاک او منظم چاپېریال برابر شي.

## اداري کارکوونکو ته یو ورځنی روزنیز ورکشاپ وړاندې شو




لوګر ۱۸

د پل‌علم ښاروالۍ اداري کارکوونکو ته د (اجرااتو ارزونې د نوې کړنلارې) تر سرلیک لاندې یو ورځنی روزنیز ورکشاپ د لوګر ولایت د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو ادارې له لوري وړاندې شو چې په کې د ښاروالۍ ټولو اداري کارکوونکو ګډون کړی وو.

## د مهترلام ښاروالۍ د ګډ کمېسیون له لوري د ښار په بېلابېلو سیمو کې د پلې لارو د بندښت پر ضد عملیات ترسره شول



لغمان ۱۹

یاد عملیات د هغو دوکاندارانو او هټیوالو پر وړاندې وشول، چې له وړاندې خبرېدو سره سره یې پلې لارې د ترپالونو، چتریو او نورو خنډونو له لارې بندې کړې وې.

ښاروال الحاج مولوي رحمت الله شهامت وویل؛ له دې وروسته به کمېسیون خپلې څارنې دوامدارې کړي او له سرغړونکو سره به قانوني چلند کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه
اونیزه

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

شاروالی پلخمری ولایت بغلان از سروی افراد نیازمند در سطح شهر حمایت کرد. امروز شنبه ٦ جدی ۱۴۰۴ (۲۷ دسامبر ۲۰۲۵)، دو نماینده دفتر تقویه اجتماعی با مکتوب رسمی به آمریت حکومتداری شاروالی پلخمری مراجعه نمودند و درخواست همکاری برای سروی و شناسایی خانواده‌های نیازمند را نمودند که از جانب مسوولان این شاروالی همکاری همه جانبه صورت گرفت و قرار است با همکاری مسؤولان شاروالی، این هیئت به نواحی و گذرهای مختلف شهر معرفی گردند تا سروی را انجام دهند.



بغلان ۲۰

## اسعداباد ښار دوهمه ناحیه!



کونړ ۲۱

کونړ – اسعداباد ښاروالۍ دویمه ناحیه کې خدماتي پرسونل د ځای په ځای شویو کثافات دانیو په تخلیه او د کثافاتو په انتقال په چارو بوخت دي.

## اطلاعیه شاروالی خُلم

به اطلاع آن عده افراد واشخاص که قبلاً ازطریق ریاست شاروالی ولسوالی خُلم نمرات رهایشی و بلند منزل های تجارتی اخذ و پول تکس خدمات آنرا تحویل واردات شاروالی خُلم نموده باشند رسانیده می‌شود.

یک مراتبه به همراه اسناد دست داشته خویش به ریاست شاروالی خُلم مراجعه نمایند تا بعد از چک و بررسی اسناد شان زمین های آنها در صورتیکه کدام مشکل حقوقی نداشته باشد غرض آبادی و ساختمان سازی برای شان تسلیم داده می‌شود.

درصورت عدم توجه به آبادی نمرات خویش مطابق طرزالعمل مسترد می‌گردد آنگاه حق شکایت را نخواهند داشت.

نوت: افراد و اشخاصی که واگذاری دارند الی امر ثانی معطل می‌باشد.

ولایت مزارشریف

هلمند-لښکرگاه ښاروالۍ د ښار د سرسبزۍ په موخه د فریزون نوي جوړېدونکو گلدانونو د اړولو او خاورې اړه‌ولو چارې پیل کړې. دا کار د اولې ناحیې په گډون د ښار په بېلابېلو سیمو کې روان دی. د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت وايي؛ تر اړولو وروسته به ونې او بوټي وکرل شي او زاړې ونې به د ښې ودې لپاره اصلاح شي. یادې چارې د ښار په اته‌گونو ناحیو کې دوام لري.

هلمند ۲۲

## خوست ښاروال: د پروژې پل پاتې برخه به ډېر ژر ورغول شي



خوست ۲۳

د خوست ښاروال الحاج حافظ عبدالرشید عمري د شپې لیدنې پر مهال د لومړۍ ناحیې اړوند پروژې پل څخه کتنه وکړه او اړوندو انجنیرانو ته یې لارښوونه وکړه چې د پل منځنۍ پاتې برخه دې ژر تر ژره په اساسي ډول ورغول شي او موجوده کتاره دې لرې شي.

به اثر تلاشهای ملا نعمت الله (حاجی حسن صاحب) شاروال شهر هرات، کار ساخت کانال جاده مجیدی در ناحیه ششم این شهر، با هزینه حدود ۳ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی، جریان دارد. انجینران ناظر شاروالی به‌طور مداوم از روند و کیفیت پروژه نظارت می کنند که با تکمیل این کانال، مشکل آب گرفتگی در مسیر رفع شده و تسهیلات قابل توجهی برای ساکنان ناحیه ششم فراهم میگردد.



هرات ۲۴

## خوست ښاروالۍ د ښاري نظم لپاره عملي گام پورته کړ



خوست ۲۵

د خوست ښاروالۍ په چوکاټ کې د ښاري نظم کمېسیون د ښار بې‌نظمۍ د کنټرول په موخه عملیات پیلوي. ټول غیر قانوني لاس‌گاډي، مېزونه او به ټاکل شوو ځایونو ته انتقالېږي.

## د خوست ښاروالۍ د ښاري نظم کمېسیون د ښار بې‌نظمۍ د مخنیوي په موخه گډ عملیات پیل کړل



خوست ۲۶

خوست ښاروال الحاج حافظ عبدالرشید عمري وویل؛ دا اقدامات د نږدې دوو میاشتو پلان له‌مخې د ښار د نظم، ښکلا او اسانتیا لپاره ترسره کېږي. نوموړي له ښاریانو د همکارۍ غوښتنه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې دغه طرحه د ټولو ښاریانو په گټه ده.

ښاریانو هم د یاد اقدام هرکلی وکړ او غوښتنه یې وکړه چې دا طرحه دې په بشپړ ډول پلي شي.

## لښکرگاه ښار کې د کثافاتو د انتقال بهیر تر نظارت لاندې ونیول شو

د لښکرگاه ښاروالۍ د تنظیف مدیریت د ښار ۸ گونو ناحیو کې د کثافاتو د انتقال بهیر وڅاره. موخه یې د صفایي چټکتیا او د باراني موسم ستونزو ته مخکې له مخکې رسیدنه ده.

هرات ۲۷

هرات - انجیل ښاروالۍ او گډې کمېټې له لوري د تاریخ تېرو توکو د کنټرول په موخه د قفسلان له میدان‌بار تر ملت میدان‌بار پورې نظارتي عملیات ترسره شول، چې په ترڅ کې د پام وړ اندازه توکي راټول او سرغړونکو ته خبرداری ورکړل شو.



هرات ۲۸

د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف مدیریت له لوري د دویمې ناحیې اړوند د اخیري سټاپ ویالې او پلچکونه پاک شول. په عملیاتو کې خټې او کثافات وایستل شول او د اوبو بهیر بېرته عادي حالت ته راوگرځېد.



لغمان ۲۹

# د ولاياتو او ولسواليو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د سپین‌بولدک ښاروالۍ د تنظیف مدیریت له لوري د ښار له مختلفو سیمو څخه د کثافاتو د راټولولو او انتقال بهیر روان دی. هره ورځ شاوخوا ۲۵ متره مکعب کثافات له ښار څخه ایستل کېږي.



کندهار ۲۹

ښاروال ملاراز محمد فاروقي په رهبرۍ د میدان‌ښار ښاروالۍ د تنظیف چارې چټکې شوې، هر سهار له لمانځه وروسته کوڅې، سړکونه او بازارونه پاکېږي، چې د ښار ښکلا او نظم ته یې نوې بڼه ورکړې.



میدان وردګ ۳۰

د کندهار ښاروالۍ کې د ښاري نظم د ټینګښت په موخه مشورتي غونډه ترسره شوه




کندهار ۳۱

د کندهار ښاروالۍ د مشورتي شورا له لوري د ښاري نظم د ټینګښت په موخه یوه غونډه جوړه شـوه، د ښاروالۍ تخنیکي او مسلکي مرستیال، د مشورتي شورا او د ښاري نظم کمېسیون غړو ګډون کړی و.

په غونډه کې د ښاري بې‌نظمۍ پر لاملونو بحث وشو او د حل لپـاره بېلابېلي عملي طرحـې او وړاندیزونه شریک شول. د ښــاروالۍ د مارکېټونو د تنظیم امر خپل روان او ترسره شوي فعالیتونه تشریح کړل او د وړاندیزونو د تطبیق ډاډ یې ورکړ.

د ښاروالۍ مرستیال د ګډونوالو هڅي وستایلې او ټینګار یې وکړ چې د ښار پاک ساتل او د ښاري نظم ټینګښت د حکومت ترڅنګ د ټول ولس ګډ مسؤلیت دی.

د شپږمې ناحیې ټانک مرکز سیمه کې د فرهنګ خونې نوې تعمیر د جوړولو پروژې چارې روانې دي



هرات ۳۲

د هرات ښاروالۍ له پرمختیایي بودجې څخه د شاوخوا ۲۶ میلیون افغانیو په لګښت په څلور پوړه کې د فرهنګ خونې د نوې ودانـۍ د جوړولو پروژې ودانیــزې چارې خورا په چټکۍ سره روانې دي.

د هرات ښــاروالۍ نظــارتي ټیمونه وخت پــه وخت له پراختیایي پروژو څخه څارنه ترسره کوي.

ننګرهار - خوږیانو ولسـوالۍ کرېږ بـازار کې د خوږیانو ښاروالۍ له لوري د سړک د قیرریزۍ چارې پیل شوې. د یـاده ونې وړ ده چې یادې چارې به نږدې راتلونکې کې بشپړې شي.



هرات ۳۳

مزارشریف کې د سرغړونو له امله لس نانوایانې وتړل شوې



مزارشریف ۳۴

د مزارشریف ښاروالۍ د مارکېټونو تنظیم او پراختیا امریت د نرخ پاڼې، حفظ الصحې او د ډوډۍ وزن د نه مراعتولو له امله ۱۰ نانوایانې وتړلې. دا اقدام د ښـــاروالۍ د دوامدارو څارنو په ترڅ کې شــوی، چې موخه یې د عامه روغتیا ساتنه، د مصرفوونکو د حقونو خوندیتوب او د بازار نظم ټینګول دي.

ښاروالۍ ټینګار کړی چې څارنه به دوام ولري او له ښاریانو یې غوښــتي، چې د هــر ډول سرغړونې پــه صورت کې موضوع ښاروالۍ ته راپور کړي.

د مزارشریف-کابل لویـه لاره د څراغونو په بیارغونې سره لاروښانه کېږي



مزارشریف ۳۵

د مزارشریف -کابل لویې لارې د ۲۹۲ روښــنایي ستنو د څراغونو د بیارغونې چارې پیل شوې، چې له مخې به یې په مزارشریف ښار کې ۱۳,۶ کیلومتره سړک لاروښانه شي. دا پروژه د فردوسي څلورلارې څخه تر امیرعلي شیر نوایي صنعتي پارکونو پورې عملي کېږي او موخه یې د شپنۍ رڼا ښه‌والی، د ښاري ښکلا لوړول او د امنیت ټینګښت دی.

یادې چارې د مزارشریف ښاروالۍ د پراختیایي بودجې له‌مخې او د قـراردادي شرکت له لوري په معیاري ډول پلې کېږي.

کارکنان خدماتی شاروالی شـهر ایبک ولایت سمنگان زباله ها و کثافات ساحات گذرهای کارته صلح، شفاخانه، میرزا برات‌علی خان، قاضی جاوید و کارته خراسان را به گونـه خانه به خانه جمع آوری و سـپس به محل دفن کثافات بیرون از شهر انتقال دادند.



سمنگان ۳۶

کارکنان مدیریت تنظیف و سرسـبزی ریاست شاروالی شهر سرپل به‌منظور تأمین پاکیزگی، حفظ‌الصحه محیط و ایجاد شـهر زیبا، به‌گونه پیهم سرکـهـا، پیاده‌روها، آبروها و سایر سـاحات عامه را به‌طور منظم جاروب و از وجود زباله‌ها پاک‌سازی می‌نمایند.



بغلان ۳۷

اسـتاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شـاروالی مزارشریف از روند کار سه پروژه مهم شهری بازدیـد و نظارت به‌عمل آورد و هدایت داد تا در قسـمت تأمین کیفیت، تسریع روند کار و تطبیق درست معیارهای انجنیری توجه ویژه صورت گیرد.



مزارشریف ۳۸

## جلال اباد ښاروال د قلعه خیالي سړک د رغونې چارې وڅارلې


ننګرهار ۳۹

د جلال اباد ښاروال قاري بلال د تفتیش امر او مل پلاوي سره په اتمه ناحیه کې د قلعه خیالي څخه تر جمالي کلي پورې د سړک د رغونې له روانو کارونو لېدنه وکړه. ښاروال د پروژې د چټکتیا او کیفیت په اړه اړینې لارښوونې وکړې او دا یې د سیمې د اوسېدونکو لپاره مهمه پروژه وبلله.

یاد سړک د ۱۴۰۴ مالي کال د پروژو له ډلې دی چې ۲,۸ کیلومتره اوږدوالی او ۹ پلونه لري او د ۲۸,۹ میلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي. د ښاروالۍ له لوري د ۱۴۰۴ مالي کال لپاره د ۵۵۵ میلیونو افغانیو په ارزښت د ۳۵ پراختیایي پروژو د پلي کېدو پلان هم جوړ شوی دی.

د جلال‌اباد ښاروالۍ له لوري د دوهمې ناحیې د بېلابېلو سیمو څخه د کثافاتو د انتقال چارې جریان لري.
د ښاروالۍ د تنظیف کارکوونکي له نهه ګونو ناحیو څخه هره ورځ ۶۵۰ متره مکعب کثافات راټولوي او مناسبو ځایونو ته یې انتقالوي.


ننګرهار ۴۰

## فراه ښاروالۍ د فوتسال لوبډلې پایلوبې ته لار ومونده



فراه ۴۱

فراه کې د «حذفي جام» تر سرلیک لاندې د ۱۶ فوتسال لوبډلو ترمنځ سیالۍ پیل شوې دي. د یادو سیالیو په ترځ کې فراه ښاروالۍ فوتسال لوبډلې په نیمه پایلوبه کې د «برادران عزیزي» لوبډلې پر وړاندې په زړه پورې لوبه ترسره کړه او خپل سیال لوبډلې ته یې د ۵ پر ۱ په پایله کې ماتې ورکړه.

ننګرهار- روداتو ولسوالۍ د تنظیف کارکوونکو له لوري، د روداتو له بېلابېلو سیمو څخه د کثافاتو د انتقال، عمومي سړکونو د صفایي او د کثافات دانیو د تشولو چارې په منظم ډول جریان لري.


ننګرهار ۴۲

کار پروژه تعمیر الحاقیه شاروالی میمنه که چندی پیش آغاز شده بود، اکنون کار در بخش تهداب این تعمیر به گونه مطلوب جریان دارد و همزمان با تکمیل این مرحله، کار سیخ‌بندی پایه‌های آن نیز آغاز خواهد شد.


فاریاب ۴۳

کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی ولسوالی سیدخیل ولایت پروان کثافات تمام ساحات سیدخیل را جمع آوری و به جای معین آن انتقال و دفن کردند.


پروان ۴۴

## ګرشک کې د زاړه بازار د نظم لپاره ګډ نظارت


هلمند ۴۵

هلمند – ګرشک ښاروالۍ او اړوندو ادارو په ګډه د زاړه بازار په سیمه کې د ښاري بې‌نظمۍ د مخنیوي لپاره نظارت ترسره کړ. د نظارت پر مهال د دوکاندارانو او کراچیو چلوونکو له‌خوا ایښودل شوي موانع لرې او ضبط شول.
مسؤولینو ټینګار وکړ چې د عامه لارو بندول منع دي او د سرغړونې په صورت کې به قانوني چلند وشي.

## لومړۍ ناحیه کې د ښاري نظم کمپاین ترسره شو


ننګرهار ۴۶

د جلال اباد ښاروالۍ د لومړۍ ناحیې امریت او ښاري انضباطانو د ښاري نظم د ټینګښت لپاره کمپاین ترسره کړ، چې پکې د پلو لارو خلاصول او د لاس‌پلورونکو تنظیم شامل و.
مسؤولینو خبرداری ورکړ چې د سرغړونې په صورت کې به لاسي کراچۍ ضبط شي.

## اطلاعیه:

شاروالی شهر زرنج ولایت نیمروز، به اطلاع شهروندان این شهر می‌رساند که به‌منظور پاک‌کاری و بهبود محیط زیست شهری، حشر پاکی در نواحی دوم و سوم برگزار می‌گردد.
زمان: سه‌شنبه ۹ جدی ۱۴۰۴، ساعت ۹:۳۰ صبح
محل آغاز: سرک ۶۰ متره، مرکز تذکره‌های الکترونیکی
از باشندگان، متنفذین، وکلای گذر، جوانان و رسانه ها دعوت می‌شود تا با حضور فعال خود، در پاکیزگی شهر سهم بگیرند.
ولایت نیمروز

روند هموارکاری سرک اطراف مسجد جامع شهرک گنبدک، واقع در گذر اول ناحیه اول شهر به‌منظور سهولت رفت‌وآمد شهروندان و بهبود خدمات عامه، توسط ماشینری شاروالی انجام شد و طبق پلان تا یک روز دیگر تکمیل و به بهره‌برداری خواهد رسید.


بامیان ۴۷

در ادامه اقدامات شاروالی بامیان جهت حفظ دارایی‌های عامه، یک باب دکان مربوط به ملکیت این اداره، واقع در سر بازار غلغله ترمیم و بازسازی گردید.


بامیان ۴۸

شـاروالی پلخمری ولایت بغلان شماری از دوکانداران و تخت‌نشینانی را که با وجود اطلاع‌رسانی‌های مکرر، کرایه ملکیت‌های این شـاروالی را پرداخت نکرده اند، شـب گذشـته (۷ جدی ۱۴۰۴)، به دسـتور رهبری شاروالی پلخمری و هماهنگی با بخش عواید، در نواحی مختلف شهر از جمله رسته استخبارات، بلاک A، مندوی داخل باغ و رسته لین قشلاق مهر و لاک نموده است.



بغلان ۴۹

## غزني ښاروال د ښاروالۍ له ملکیتونو څخه لیدنه وکړه



فراه ۵۰

د غزني ښـاروال مولـوي سردارولي ثابـت ابو محمد د ښـاروالۍ له مسؤولینو سره یو ځای د ښاروالۍ د بېلابېلو ملکیتونو څخه لیدنه وکړه او د دغو شتمنیو د ساتنې سم مدیریت او اغېزناکې استفادې پر څرنګوالي یې له نږدې څارنه وکړه. ښـاغلی ابومحمد د لیدنې پـر مهال اړوندو مسؤولینو ته لارښوونه وکړه چې د ښاروالۍ ټول ملکیتونه دې د قانـون له مخـې ثبت، خوندي او په شـفاف ډول مدیریـت شي څو د عامه عوایدو د لوړولو او د ښـاریانو د خدمتونو د پراختیا لپاره ترې اغېزناکه ګټه واخیستل شي.

هموارکاری پـروژه کانکریت ریزی جاده قوماندانی امنیه قیصار به‌گونه مطلوب توسط شاروالی قیصار جریان دارد و با تکمیـل این مرحله کار کانکریـت ریزی سرک آغاز خواهد شد.



فاریاب ۵۱

## د محمودراقي ښـاروالۍ له لوري د ښـار له بېلابېلو سیمو څخه د کثافاتو راټولولو چارې ترسره شوې



کاپیسا ۵۲

د محمودراقي ښـاروالۍ د تنظیف ټیم د ښار له بېلابېلو برخو څخه کثافات راټول او ټاکل شوېو ځایونو ته ولېږدول. دا اقدام د ښـار د پاکوالي، عامې روغتیا سـاتنې او د چاپېریال ککړتیا د مخنیوي په موخه ترسره شو.

## د محمودراقي ښاروالۍ له خوا د ده‌باباعلي شنبې بازار څخه کنټرول او څارنه ترسره شوه



کاپیسا ۵۳

د بازارونو د منظمې څارنې او کنټـرول د لړۍ په دوام، د محمودراقي ښـاروالۍ کارکوونکو له خوا نن د ده‌باباعلي شنبې بازار څخه څارنه ترسره شوه.

یاده څارنه د ښاري نظم ټینګښت، د چاپېریال پاکوالي، او د ښاري اصولو د تطبیق په موخه تر سره شوه.

به اساس تلاش‌های ملا نعمت‌الله (حاجی حسن صاحب) شاروال هرات، کار ساخت دومین پل هوایی عابر پیاده در ابتدای جاده بهزاد، مسیر چوک گل‌ها تا چوک شهرنو، با هزینه حدود ۱۱ میلیون افغانی آغاز گردیده و به سرعت جریان دارد.

ایـن پل به طول ۵۳ متر، عرض ۲.۲۰ متر و ارتفاع ۵.۳۰ متر، توسط شرکت "سلام بلال" ساخته می‌شود و در دو طرف آن آسانسور نیز در نظر گرفته شده است. به گفته انجینیران، کار به‌گونه معیاری پیش رفته و با تکمیل آن، مشکلات تردد عابران پیاده در این مسیر پرتردد کاهش می‌یابد. شـهروندان نیز از این پروژه اسـتقبال کرده و خواستار ساخت پل‌های مشابه در سایر نقاط مزدحم شهر شده‌اند.



هرات ۵۴

شـاروالی قلعه نو ولایت بادغیـس کار کانکریت‌ریزی مندوی آردفروشان این شهر را به‌گونه موفقانه و معیاری تکمیل نموده اسـت. این پروژه به هدف بهبود زیربنا و ایجاد سهولت برای کسبه‌کاران تطبیق گردیده است.



بادغیس ۵۵

مدیریـت کنترل امـور مارکیت‌های شـاروالی میمنه با همکاری مدیریت انضباط شـهری و مدیریت ناحیه اول ایـن اداره، موترهای لینی را کـه در پیاده‌روهای سرک ادارات امارتی نزدیک به پُل پخته پارک می‌گردید و موجب ایجاد مزاحمت در رفت‌وآمد عابرین شده بود، جمع‌آوری و به ایستگاه تعیین شده انتقال دادند.



فاریاب ۵۶

## اطلایه شاروالی قیصار

شاروالی قیصار مطابق به سال مالی ۱٤۰۵ در نظر دارد منابع عایداتی خویش:

١- عواید اجاره مندوی کشمش

٢- عواید اجاره مندوی جات بازار قیصار

٣-عواید اجاره مال گنج

٤- عواید اجاره تکس وسـایط (ترمینل و موترسایکل گنج)

٥-عواید اجاره مال گنج بازار شاخ

٦-عواید اجاره مندوی جات بازار شاخ

٧- دکاکین مندوی ملکیت شاروالی (بیرون و داخل مندوی)

اعتبار از تاریخ ۰۱-۰۱-۱٤۰۵ الی ۲۹-۱۲-۱٤۰۵ عقد قرار داد می نماید.

آن عده اشـخاص و افراد که سوابق جرمی نداشته و باقیات از ادارات نداشـته باشـند درخواستی های خویش را سر از تاریخ نشر اعلان به شاروالی قیصار و یا کمیته تدارکات مقام ولایت بسپارند.

شرط نامـه و لایحه منظور شـده را اخذ و ملاحظه نمائید و تضمین طبق قانون نقد اخذ می‌گردد.

ولایت فاریاب

جلسه مشورتی شاروال قیصار با صنف (نان فروش) شهر به منظور تعین اوزان فی قرص نان و محل فروش نان در سطح شهر دایر گردید و در آن اوزان و فروش فی قرص نان تعین و محل فروش نان در سطح شهر نیز مشخص گردید.



فاریاب ۵۷

## په پلخمري ښار کې د استوګنې کورونو کرایې تثبیت او ټاکل شوې



بغلان ۵۸

د استوګنې کورونو د کرایې د ټاکلو په موخه، د ګډو ادارو له لوري یو هیأت چې پکې د عدلیې، ښاروالۍ، ښار جوړونې او د کرنې ریاستونو، امنیه قومندانۍ، د استخباراتو ریاست، د فرامینو د نظارت او تعقیب ریاست او همدارنګه د معاملاتو د رهنما استازي شامل وو، د پلخمري ښار په کچه د کورونو د کرایې د ټاکلو او کنټرول په اړه یې لاندې پرېکړه وکړه:

**الف:**

د استوګنې بلاکونه چې د لسم سیلو له سړک څخه تر لومړي شپږسوه کوټي پورې موقعیت لري، د کرایې اندازه یې په لاندې ډول ټاکل شوې ده:

یو اطاقه (له ملحقاتو سره لکه: اوبه، تشناب، پارکینګ، پخلنځی، حمام، فاضلاب، د چوکیدار او صفاکارۍ خدمتونه): میاشتنۍ کرایه ۳۰۰۰ افغانۍ

دوه اطاقه: ۶۰۰۰ افغانۍ

درې اطاقه: ۹۰۰۰ افغانۍ

څلور اطاقه: ۱۲۰۰۰ افغانۍ

**ب:**

هغه حویلۍ چې د یادې شوې سیمې دننه موقعیت ولري او په پخه او اساسي توګه جوړې شوې وي، کرایه یې په لاندې ډول ده:

یو اطاقه پخه حویلي له ملحقاتو سره: ۲۵۰۰ افغانۍ

دوه اطاقه: ۵۰۰۰ افغانۍ

درې اطاقه: ۷۵۰۰ افغانۍ

**ت:**

هغه پخې او اساسي حویلۍ چې په همدې محدوده کې وي خو له سړک څخه لرې وي:

یو اطاقه له ملحقاتو سره ۲۰۰۰ افغانۍ

که خامه وي: ۱۵۰۰ افغانۍ

**ث:**

هغه حویلۍ چې له ټاکل شوې سیمې څخه بهر موقعیت ولري او پخې او اساسي وي:

یو اطاقه له ملحقاتو سره ۲۰۰۰ افغانۍ

که خامه وي ۱۵۰۰ افغانۍ

**ج:**

د استوګنې بلاکونه چې د لسم سیلو له سړک څخه تر بوغابي او همدارنګه د لومړي شپږسوه کوټي څخه تر بند دو پورې او د سمنټ غوري بلاکونو کې موقعیت لري:

یو اطاقه مجهز کور: ۲۵۰۰ افغانۍ

غیرمجهز اطاق: ۲۰۰۰ افغانۍ

**ح:**

هغه حویلۍ (پخې او خامې) چې د لسم سیلو له سړک څخه تر لومړي شپږسوه کوټي، تر بند دو پورې او د سمنټ غوري بلاکونو کې موقعیت لري:

یو اطاقه پخه او اساسي: ۲۰۰۰ افغانۍ

یو اطاقه خامه: ۱۵۰۰ افغانۍ

**خ:**

هغه حویلۍ چې د زمانخېل څخه تر پوزیشان او د سمنټ بلاکونو له ختم څخه د پلخمري ولسوالۍ تر پایه پورې موقعیت لري او سړک ته نږدې وي:

یو اطاقه پخه او اساسي: ۲۰۰۰ افغانۍ

یو اطاقه خامه: ۱۵۰۰ افغانۍ

**د:**

هغه حویلۍ چې د زمانخېل څخه تر پوزیشان او د سمنټ بلاکونو له ختم څخه د پلخمري ولسوالۍ تر پایه پورې موقعیت لري، خو له سړک څخه لېرې وي:

یو اطاقه پخه: ۱۵۰۰ افغانۍ

یو اطاقه خامه: ۱۰۰۰ افغانۍ

## د خوست ښاروال په ځانګړي هدایت، اوومه ناحیه کې د یوې لویې ځاه د ویستلو چارې پیل شوې



خوست ۵۹

د خوست ښاروال حافظ عبدالرشید عمري په ځانګړي هدایت سره، په اوومه ناحیه کې د اداري تعمیر ترڅنګ، یادې ناحیې کې د نیالګیو د اوبو کولو په موخه د یوې لویې ځاه د ویستلو کارونه پیل شول، چې له مخې به یې ټولو کښنول شویو نیالګیو ته په وخت سره اوبه رسیږي او ډېر ژر به یې پاتې چارې هم بشپړې شي.

## مهترلام ښاروالۍ خبرتیا!

لغمان–مهترلام ښاروالۍ یو عراده بابوکیټ ماشین، دوه عرادې فلډر موټرونه، دوه عرادې بارباري زرنجونه د ازاد رقابت له لارې پېرې، هر هغه اشخاص چې په شرایطو برابر وي او د یاد قرارداد نیولو لیوال وي خپل غوښتنلیکونه دې د اعلان له نشر څخه تر ۲۱ ورځو پورې د مهترلام ښاروالۍ تدارکاتو او خدماتو مدیریت ته وسپاري.

لغمان ولایت

شاروالی ولسوالی انجیل ولایت هرات با اشتراک نمایندگان ادارات مختلف از گدام‌های مواد غذایی نظارت نمود. در این بازدید به فروشندگان توصیه‌های شرعی و قانونی ارائه شد و هشدار داده شد که در صورت تخلف، با برخورد قانونی مواجه می شوند.



هرات ۶۰

## خوست ښاروالۍ خبرتیا!

خوست ښاروالۍ اداره د کوچینو عمراني پروژو جوړولو قرارداد پرانیستې داوطلبۍ ته د تړولو افرونو په موخه وړاندې کوي، په شرایطو برابرو ساختماني شرکتونو ته بلنه ورکوي چې خپل غوښتنلیکونه دې تر (۵) ورځو پورې تدارکاتو مدیریت ته وسپاري شرطپاڼه کتلی شي خپله دې د روان ۱۴۰۴ مالي کال د مرغومې میاشتې په (۱۳) مه نېټه د شنبې په ورځ له غرمې مخکې لس بجې داوطلبۍ غونډې ته حاضر شي.

خوست ولایت

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی رياست
د مطبوعاتو رياست

# د ولاياتو او ولسواليو ښاروالیو د فعاليتونو او لاسته راوړنو خبري اونيزه

رغونه
اونيزه

## د حاجي عزيز سيمې لښتيو رغنيزې چارې په چټکۍ روانې دي


کندهار ۶۱

د کندهار ښاروالۍ له لوري د پنځمې ناحيې حاجي عزيز سيمه کې د ۷۲۰ مترو په اوږدوالي لښتيو جوړېدو چارې روانې دي. تر دې دمه يوه کوڅه بشپړه شوې او بله ۶۰ سلنه پرمختګ لري.

اوسېدونکي د دې رغنيزې پروژې هرکلی کوي، او ښاروالۍ وايي؛ د ښاري پرمختګ لپاره به دا ډول پروژې دوام پيدا کړي.

**شاروالی ولسوالی غوریان ولایت هرات به‌منظور بهبود خدمات شهری و هماهنگی میان مردم و ادارات، نام‌های جدید گذرهای این ولسوالی ها را تثبیت و وکلای گذر مربوط به نواحی شهری را رسماً معرفی نموده است. این موضوع طی جلسه‌ای با حضور شاروال غوریان نهایی گردیدو از وکلای گذر خواسته شد تا در هماهنگی با شاروالی این ولسوالی، در راستای نظم شهری و رسیدگی به مشکلات مردم صادقانه همکاری نمایند.**


هرات ۶۲

## قره‌باغ د ځوانانو د روزنې لپاره کرکټ او فوټسال سيالۍ پيل شوې دي


کابل ۶۳

کابل – قره‌باغ ښاروالۍ د حکومتولۍ مديريت له‌خوا د ځوانانو د فکري او بدني روزنې په موخه د کرکټ او فوټسال ټورنمنټونه پيل شول. د کرکټ سيالۍ د شنبې ورځ رسماً پيل شوې او د فوټسال سيالۍ به د سه‌شنبې په ورځ پيل شي. په پرانيسته کې سيد ادريس هاشمي د ځوانانو پر مثبت رول، يووالي او سالم فکر ټينګار وکړ او دا ډول سپورتي پروګرامونه يې د روغتيا او ټولنيز بدلون لپاره مهم وبلل.

## څوارلسمه ناحيه کې د ښاري نظم د ټينګښت نظارت ترسره شو


کندهار ۶۴

کندهار ښاروالۍ د څوارلسمې ناحيې په بېلابېلو سيمو کې د ښاري نظم او عامه لارو د خلاصون په موخه نظارت ترسره کړ. دوکاندارانو ته د توکو ايښودلو ځايونه وټاکل شول او د بازارونو لپاره استازي وټاکل شول، ترڅو د اصولو مطابق فعاليت وشي. چارواکو ټينګار وکړ چې سرغړونکو سره به قانوني چلند وشي.

**شاروالی شهر چاریکار برای بهبود وضعیت محیط زیست و نظافت شهر، کار پاک‌کاری و بازگشایی جویچه‌ها و آبروهای شهرک معلمین را با موفقیت به پایان رسانید. شاروالی چاریکار تأکید می‌ورزد که همکاری مردم در حفظ پاکی و جلوگیری ضروری است.**


پروان ۶۵

## د هرات ښاروال او مل پلاوي د علاقانو اتحاديې له رئيس او غړو سره وليدل


هرات ۶۶

د هرات ښاروال ملا نعمت‌الله د ښاروالۍ د مرستيال او اړوندو مسؤولينو په حضور کې د علاقانو اتحاديې له رئيس او غړو سره وکتل. په دې غونډه کې د لومړنيو خوراکي توکو د بيو کنټرول، د احتکار مخنيوي او د بازار د ثبات پر ټينګښت خبرې وشوې.

ښاروال د اتحاديې له غړو او واردکوونکو وغوښتل چې د بيو د څارنې او تنظيم په برخه کې له ښاروالۍ سره همکاري وکړي. د علاقانو اتحاديې رئيس هم د ښاروالۍ له هڅو قدرداني وکړه او د بشپړې همکارۍ ډاډ يې ورکړ. دواړو لورو د ګډو همغږيو او دوامداره همکاريو پر پياوړتيا ټينګار وکړ.

## لښکرګاه ښار او ناوې ولسوالۍ د داخلېدو دروازه ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه


هلمند ۶۷

د هلمند وليت په مرکز لښکرګاه ښار کې د ښار او ناوې ولسوالۍ د داخلېدو نوې دروازه د يو لړ شاندارو مراسمو په ترڅ کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه. دا پروژه د لښکرګاه ښاروال الحاج حافظ صديق صاحب په هدايت او د خصوصي سکتور په مالي ملاتړ پلي شوه.

په مراسمو کې د لښکرګاه ښاروال، د ناوې ولسوالۍ ولسوال، امنيتي مسؤولينو، د ښاروالۍ چارواکو، د مشورتي بورډ غړو، رسنيو او د سيمې اوسېدونکو ګډون کړی و.

ښاروال د خصوصي سکتور له همکارۍ مننه وکړه او پر نورو پانګوالو يې غږ وکړ چې د ښار او هېواد په آبادۍ کې ونډه واخلي.

د فولاد سکليت شرکت استازي هم د بيا رغونې په برخه کې د همکارۍ دوام ته ژمنتيا ښوده، او د سيمې اوسېدونکو د دغې پروژې هرکلی وکړ.

**کارکنان مدیریت عمومی تنظیف و سرسبزی شاروالی شهر چاریکار سیل‌برهای شهرک معلمین را پاک‌سازی کردند. همچنان پلچک‌های سره‌راهی هوفیان بازگشایی شد و جویچه‌های جاده گلغندی نیز به طور کامل پاک کاری گردید.**


پروان ۶۸

**حافظ راز محمد یاسر، شاروال شهر چاریکار با الحاج خیرالدین مایل پروانی، رئیس شرکت بشیر نوید گروپ به هدف بهبود روند تجاری در شهر چاریکار، ایجاد زمینه های کسب‌وکار و همکاری با نیازمندان دیدار و گفت‌وگو کرد.**


پروان ۶۹

کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی هرات به شکل همه روزه کانال‌های عمومی سطح شهر را پاک‌کاری می‌کنند و از شهروندان هرات می‌خواهند تا در حفظ پاکیزگی و زیبایی شهر همکاری نمایند.



هرات ۷۰

مسئوولان آمریت پلان شاروالی هرات می‌گویند که به اساس فرمان شماره ۲۰ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظ الله تعالی در خصوص نظم بخشی امور شهری و تسهیل خدمات برای شهروندان، همه‌روزه به مراجعین معلومات لازم را در مورد پلان‌های شهری، اخذ نقشه و سایر موضوعات تخنیکی ارائه می‌دهند.

هرات ۷۱

شاروالی فیروزکوه نشستی را با حضور وکلای گذر و نمایندگان نواحی چهارگانه شهر فیروزکوه جهت بهبود خدمات شهری و تقویت همکاری با نهادهای محلی برگزار کرد و پیرامون توزیع و خانه‌پُری فورم‌های جمع آوری معلومات نفوس و منازل و همکاری مؤثر وکلای گذر با نواحی در امور تنظیف و حفظ محیط شهری بحث و تبادل نظر صورت گرفت.



غور ۷۲

به‌منظور جلوگیری از انسداد آب‌روها و تأمین پاکی و صفایی شهر، کار جوی‌کاری کانال‌های عمومی سطح شهر، مطابق پلان تعیین‌شده توسط کارکنان مدیریت عمومی تنظیف شاروالی هرات به‌گونه منظم از طرف شب انجام می‌شود.

هرات ۷۳

به منظور تنظیم بهتر محصول صفایی و بهبود خدمات شهری، شاروالی محمودراقی روند سروی ساحات تجارتی را در ناحیه اول شهر راه اندازی نمود.



غور ۷۴

ریاست شاروالی فیروزکوه به منظور ایجاد سهولت در رفت‌وآمد شهروندان و بهبود وضعیت سرک‌های فرعی، روندجغل اندازی و گریدرکاری کوچه‌های تپه خیرآباد (نواحی دوم) را آغاز نمود.



غور ۷۵

شاروالی بامیان بام مسجد داخل محوطه شاروالی بامیان را به‌منظور جلوگیری از نفوذ آب و افزایش استحکام سقف بام مسجد، ایزوگام کرد و به بهره‌برداری سپرد.



بامیان ۷۶

به‌منظور ارتقای کیفیت خدمات شهری و شناسایی میزان تعهد و فعالیت‌های کاری کارکنان بخش خدمات شهری، ارزیابی سالانه اجراآت ۶۵ تن از کارمندان خدماتی شاروالی بامیان در بخش‌های تنظیف، فضای سبز و حفظ الصحه شهری صورت گرفت.



بامیان ۷۷

جلسه‌ماهوار ناحیه اول شاروالی بامیان با حضور وکلای گذر، متنفذین محل، نماینده شرکت قراردادی تنظیفی و نمایندگان اصناف بازار جدید دشت عیسی‌خان در مقر این ناحیه برگزار گردید و پیرامون تنظیم و مدیریت شهری، بحث و تبادل نظر صورت گرفت.



بامیان ۷۸

کارکنان تنظیف شاروالی بامیان به‌منظور تأمین نظافت شهری و جلوگیری از ازدحام روزانه، سرک‌های اصلی شهر بامیان از طرف شب پاک‌کاری می‌نمایند که شب گذشته از جریان پاک‌کاری سرک بازار غلغله در مربوطات ناحیه دوم به‌گونه منظم نظارت گردید.



بامیان ۷۹

## اطلاعیه شاروالی مزارشریف

شاروالی مزارشریف در نظر دارد طبق پلان انکشافی سال مالی ۱۴۰۵ خویش پروژه سرسبزی و حفظ و مراقبت یکساله جاده ها و گلدان های داخل شهر و نواحی ۱۲ گانه را طبق جدول مشخصات و احجام و براورد ریاست خدمات تخنیکی و مسلکی بشکل اساسی سرسبزی و حفظ و مراقبت نماید.

شرکت های خدمات سرسبزی و زراعتی، لوژستیکی و موسساتی که خواهش آفرگشایی آنرا طور قرارداد داشته باشند مطابق شرطنامه و جدول مشخصات داده شده درخواست های خویش را از تاریخ نشر اعلان به آمریت تدارکات و قرار دادها شاروالی سپرده و بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی در دفتر آمریت تدارکات مراجعه نمایند.

تضمین بشکل بانک گرانتی مبلغ ۶۰۰۰۰۰ (ششصد هزار افغانی) بوده، شرطنامه و مشخصات را ملاحظه شرط شمول عدم باقیداری بوده و همچنان طبق حکم ۲۹ و فقره طرزالعمل تدارکات دواطلبان نقل چاپ شده را با پرداخت مبلغ ۱۰۰۰ افغانی بدست بیاورند.

ولایت مزارشریف

د جلال اباد ښاروالۍ د تنظیف ټیم له لوري د لومړۍ ناحیې اړوند بېلابېلو سیمو څخه د کثافاتو د انتقال چارې جریان لري. د ښاروالۍ د تنظیف کارکوونکي له نهه ګونو ناحیو څخه هره ورځ ۶۵۰ متره مکعب کثافات راټولوي او مناسبو ځایونو ته یې انتقالوي.



ننګرهار ۸۰

شاروالی شهر چاریکار به منظور دور نگهداشتن جوانان از مواد مخدر و تشویق آنان به فعالیت های ورزشی، دو سیت لباس فوتبال به تیم فوتبال فاتحان باختر اهدا کرد.

پروان ۸۱

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

رغونه
اونیزه

## د ترینکوټ ښار د پراختیايي پروژو په اړه د ښاروال او اقتصادي مرستیال لیدنه



هلمند ۸۲

د روزګان – ترینکوټ ښاروال الحاج ملا محمد اسماعیل دفاعي د ریاست‌الوزرا له اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخند سره وکتل. په دې لیدنه کې د ترینکوټ ښار د یو شمېر مهمو پراختیايي پروژو، د سرشخلو د ۴۰ متري سړک اساسي رغونه، د خیرو کاریز د اصلاحاتي پلان پاتې برخو بشپړول، د تفصیلي پلانونو تطبیق او د ښاري ښکلا پروژو په اړه خبرې وشوې. ملا عبدالغني برادر د یادو پروژو د تطبیق هرکلی وکړ او د سرشخلو د سړک د پراخوالي او نورو ښاري پراختیايي پروژو په برخه کې یې د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ.

## د سنګین ښاروالۍ کې د بازار مشرانو سره د عوایدو او همغږۍ ناسته وشوه



هلمند ۸۳

هلمند –سنګین ولسوالۍ ښاروال د بازار د بېلابېلو سیمو له مشرانو سره په خپل کاري دفتر کې غونډه وکړه. په دې ناسته کې د ولسوالۍ ولسوال، د ښاروالۍ مامورینو او یو شمېر نورو مسؤولینو ګډون درلود.

په غونډه کې د ۱۴۰۴ مالي کال د دریمې ربعې د عوایدو او مصارفو حساب وړاندې شو او د بازار لپاره د صنفي وکیلانو او مشورتي بورډ د غړو د ټاکلو پر اړتیا ټینګار وشو. ولسوال د ښاروالۍ له هڅو مننه وکړه.

به منظور بهبود نظم شهری و تأمین پاکی محیط، شاروالی نهرین سرک‌ها را پاک‌کاری، زباله‌ها جمع‌آوری و جوی‌ها از وجود کثافات پاک سازی نمود و همچنان کمیسیون نظم شهری نظارت به منظور جلوگیری از بی‌نظمی و رفع موانع از سرک‌ها از بازارها و اماکن عامه نظارت کرد.

بغلان ۸۴

کارکنان تنظیف شاروالی قیصار برای بهبود وضعیت محیط زیست و نظافت شهر، شهر را پاک‌کاری، جویچه‌ها و آبروها را بازگشایی نمودند.

فاریاب ۸۵

## لښکرګاه ښاروالۍ د باراني اوبو د زیانونو د مخنیوي لپاره نظارت پیل کړ



هلمند ۸۶

لښکرګاه ښاروالۍ د بارانونو اوبو له امله د احتمالي زیانونو د مخنیوي په موخه د ښار په بېلابېلو سیمو کې د نظارت لړۍ پیل کړې ده.

